مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخڼر ۲۰۲۲/۰۷/۱۲

د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(دیارلسمه برخه)

پښتني دودونه او اسلامي شریعت، د امارت چارواکو ته وړاندیزونه

د نړۍ هره ټولنه خپل ځانګړي دودونه او ارزښتونه لري او ټولو ته خپل، خپل دودونه او ارزښتونه مهم دي، دا شان په پښتنو کې پښتني دودونه او ارزښتونه ډېر رول لري، سره له دې چې ځیني پښتني دودونه مخامخ له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي، بیا هم هېڅ یو پښتون، هغه که ملایان دي یا عام پښتانه، له خپلو دا ډول پښتني دودونو څخه د اسلامي شریعت پر وړاندې نه تېریږي چې له هغه څخه لاندې څو بېلګې وړاندې کوو:

لومړی: په قرآن کریم کې تره (کاکا)، ماما او لېور نامحرم دي، بیا هم د تره په اړه د (بخاري شریف په (۴۷۹۶ - ۵۰۹۹) شمېرو حدیثونو) کې مالومات راغلي دي چې په دې توګه کاکا محرم بللی کیږي خو لېور د قرآن او د پېغمبر (ص) د حدیث پر بنسټ نامحرم دی او له لېوره څخه حجاب نه کول یې له هلاکت سره برابر بللي دي.

دوه یم: پېغمبر (ع) د ښځې او سړي تر منځ له نکاح وړاندې ویلي دي چې سړی دې د ښځې مخ وګوري چې ړنده او یا بل ډول معیوبیت ونه لري.

دریم: کونډه ښځه چې قرآن کریم اجازه ورکړې ده، په خپله خوښه مېړه انتخاب او نکاح ورسره وکړي. (د بقرې سورت: ۲۳۴ آیت)، خو پښتانه د قرآن مجید دا حکم نه پلی کوي بلکې پر خلاف یې عمل کوي، داسې چې په لومړي سر کې له کونډې سره نکاح د لېوره حق بولي، بیا د لېورزي او له دغو کسانو وروسته د مېړه د تره زوی سره نکاح کوي او دا لړۍ همداسې پسې اوږدیږي، بده خو لا دا چې که کونډه ښځه له کوم پردي سړي سره د قرآن حکیم د حکم پربنسټ په خپل منځ کې نکاح وکړه نو د ښځې د مړه شوي مېړه د وارثانو لخوا وژل کیږي.

دا ډول نورې ناروا کړنې لکه د ولور اخیستل، په بدو کې د خور یا لور ورکول، په میراث کې ښځو ته برخه نه ورکول او داسې نور دودونه چې د شریعت پر خلاف دي، پښتانه په دا ډول دودونو پورې کلک نښتي دي چې په دې برخه کې نه قرآن مني او نه د پېغمبر (ع) ښوونې.

د پښتنو د دا ډول دودونو له امله ده چې د اسلام سپېڅلی شریعت په هېڅ صورت سره په ښه توګه نه دی پلی شوی او نه د پلي کیدو امکان لري، په دې بنسټ د امارت چارواکو ته اړینه ده د افغانستان له ټولو وګړو (افغانانو) سره له زغم، حکمت او پوهې کار واخلي، لکه وړاندې چې یادونه وشوه، ځیني داسې پښتني دودونه دي چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي خو پلي کول یې شوني نه دي چې د امارت چارواکي یا هغه لوی، لوی عالمان او مشایخ (شیخ القرآن او شیخ الحدیث) چې د ښځو د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حجاب په هکله سختي کوي، دې ته نه دي حاضر چې له پښتني دودونو تېر او په خپل ځان شريعت پلی کړي، زه له ټولو ديني علماوو دا پوښتنې کوم:

کوم ملا صاحب حاضر دی چې خپله مېرمن، د پېغمبر (ص) د لاندې مبارکې وينا پر بنسټ، له خپلو ورونو، تره زامنو او خپلو خوريونو څخه پټه او ستر پرې وکړي؟
نبي کريم (ص) ويلي دي: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ». فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ.»

ژباړه: عقبه بن عامر (رض) وايي: رسول الله (ص) وفرمايل:« پرديو ښځو ته له ورتګ څخه ډډه وکړئ.» يو انصاري وپوښتل:«ای د خدای رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه (لکه ورور، تره، د تره زوی او د مېړه خوريې) [په اړه] ستاسو نظر څه دی؟» ويې فرمايل:«هلاکت په همدې کې دی.» (بخاري: ۵۲۳۲)

کوم ديني عالم دې ته چمتو دی د خپلې خور يا لور مخ له نکاح وړاندې د (ايجاب او قبول) په موخه نامحرم کس ته وربښکاره کړي؟... «مسلم له ابو هريره روايت کوي وايي: له پېغمبر (ص) سره يو ځای وم چې يو کس راغی او خبر يې ورکړ چې له يوې انصاري ښځې سره يې واده وکړ، پېغمبر (ص) وويل: آيا هغه دې وليدله؟ هغه وويل: نه. ويې فرمايل: ولاړ شه هغه وګوره چې د انصارو سترګې معيوبې دي.» (صحيح مسلم، د نکاح کتاب)

سوچه اسلامي شريعت د اسلام په تاريخ کې سل په سلو کې نه دی پلی شوی تر دې چې د پېغمبر (ع) پر مهال هم سوچه اسلامي احکام پر ټولو خلکو نه دي پلي شوي چې په دې اړه ډېر مالومات شتون لري.

د ښځو حجاب (چادري) چې د علماوو ترمنځ يوه اختلافي مسئله ده او د نجونو زده کړې چې هېڅ ډول شرعي ممانعت نه لري د ږېرې پرېښودل، تور سر ګرځيدل او نورو دا ډول جزئي مسايلو په اړه سختي په کار نه ده، امارت چارواکي دې له خپلو خلکو سره روغه وکړي چې دا د خلکو او هېواد په ګټه ده په دې هکله پوهانو څه ښه ويلي دي:**«اګر زمانه با تو نه ميسازد، تو با زمانه بساز.»** امارت چارواکي دې له ټولو عامو خلکو څخه ملايان نه جوړوي، دا امکان نه لري چې له ټول ولس څخه دې ديني عالمان جوړ شي، په ټولو اديانو کې د ديني پوهانو د اغوستن کالیو بڼه او د هغوی قيافه له عامو خلکو سره توپير لري، لکه د اسلام په سپيڅلي دين کې د ديني علماوو جامې او قيافه ځانګړې دي، يو ديني عالم پګړۍ په سروي، سپين کالي اغوندي، د لاس د موټي تر کچې ږيره اوږده پرېږدي او د بربتونو ويښته يې کم يا خريلي وي.

عام خلک بيا ډول، ډول کالي اغوندي څوک پټکی په سروي، څوک مختلفې خولۍ او ځيني تور سر ګرځي، د ځينو ږيرې تر موټي پورې وي، ځيني لنډې ږيرې پرېږدي او نور ږيرې کلوي. زموږ عام خلک چې ټول مسلمانان دي خو په دغو مسلمانانو کې لږ شمېر بدعمله کسان هم شته چې دا ډول خلک په هره ټولنه کې شتون لري، د دا ډول بدعلمو افغان مسلمانانو د اصلاح په خاطر دې له زور زياتي څخه ډډه وشي له وعظ او نصيحت او له ريښتني ﴿وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ﴾ څخه دې کار واخيستل شي نه له زور او جبر څخه، لکه چې وايي: **(کلي په زور نه شي)**

د﴿وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ﴾ **ښو ته رابلل، له بدو منع کولو،** مسؤلين دې تر ټولو ښه او غوره پرهېز کوونکي ديني پوهان وي په دين باندې دې تر ټولو ښه پوه او مسلط وي، ځکه چې دوی د الله تعالی له لوري غوره ډله بلل شوي ده او حکم شوی دی چې د بدۍ مخنيوی په نېکۍ سره وکړئ:

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ژباړه: «اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره رامنځ ته شوې ده، تاسو د نېکۍ امر کوئ او له بدیو منع، او پر الله ایمان لرئ.» (عمران: ۱۱۰)

﴿ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ﴾

ژباړه: «د بدۍ مخنیوی په ډېره ښه توګه وکړه.» (مؤمنون: ۹۶)

﴿وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا﴾

ژباړه: «بنده ګانو ته ووایه: هغه څه وواياست چې ډېر ښه وي. په اصل کې دا شېطان دی چې د انسانانو په منځ کې د فساد اچولو هڅه کوي. حقیقت دا دی چې شېطان د انسان ښکاره دښمن دی.» (اسراء: ۵۳)

لکه په وړاندې لیکنو کې چې یادونه شوې ده، چارواکي چې په ځینو لویو اختلافي مسایلو لکه د (حجاب) ټاکل یا نورو باندې یې سر نه خلاصیږي له عربي پوهانو دې مشوره ترلاسه کړي، لکه چې وایي: **«پرُسیدن عیب نیست، نه داستن عیب است.»**

نېټه: ۱۴۰۱/۴/۲۰ل. ل

نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ